شریعت

ورځپاڼه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷۴ هـ.ش/ دوهم پړاو / ۷۹۶ ګڼه / دوشنبه د محرم‌الحرام ۱۱ مه ۱٤٤۷ هـ.ق / د چنګاښ ۱٦ ۱۴۰۴ هـ.ش / د جولای ۷ مه ۲۰۲۵ میلادي

د کرنې، صنعت، کانونو او ریل پټلۍ برخه کې پانګونې ته د یوه چینایي شرکت چمتووالی

د چین یوه خصوصي شرکت دربیو استازو وینکتون، یازونګ او رین سن لین د بلخ له والي حاجي محمدیوسف وفا سره کتلي دي.

دې کتنه کې د یاد شرکت استازو په بلخ او یو شمېر نورو ولایتونو کې د کرنې، صنعت، کانونو، سړک جوړولو او ریلي پټلۍ برخو کې پراخې پانګونې ته چمتووالی ښودلی.

په دې پانګونه کې د بلخ په حیرتان بندر کې د یوه صنعتي پارک جوړول او د دې ولایت د سرې او برېښنا کارخونې بیارغونه، د بدخشان ولایت واخان او چین ترمنځ د ګډ سرحدي بازار او له کندهار څخه تر هرات پورې د ریل پټلۍ پروژې شاملې دي.

همدارنګه یاد شرکت د دره‌صوف د سکرو معیاري استخراج، د نفتو تولید، د جبل‌السراج د سمنټو کارخونې ماشیني همکارۍ او په کندهار کې د اوښانو لوی فارم او د شیدو کارخونې جوړولو برخه کې هم پانګونې ته لېوالتیا ښودلې.

ورته مهال د بلخ والي د یاد شرکت د پلانونو هرکلی کړی او ټینګار یې کړی، چې یادې طرحې باید ژر تر ژره عملي شي.

د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت په اداري غونډه کې د راستنو شویو پر وضعیت خبرې وشوې

د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت ویلي، چې د مولوي عبدالکبیر په مشرۍ د یاد وزارت په اداري غونډه کې له ایران څخه د راستنېدونکو لړۍ ارزول شوې او په دې برخه کې د حل‌شویو ستونزو په اړه بحث او خبرې شوې دي.

د خبرپاڼې له مخې چې په دې غونډه کې د کډوالو چارو مالي او اداري مرستیال، شیخ کلیم الرحمن فاني او د یاد وزارت مرکزي رییسانو ګډون کړی و، چې په کې د راستنو شویو افغانانو د لومړنیو ستونزو د حل په اړه راپور وړاندې شوی دی.

په خبرپاڼه کې ویل شوي: ۳مخ

یو بنګله‌دېشي شرکت افغانستان کې د لمریزې برېښنا برخه کې پانګونې ته لېوالتیا ښودلې

د اوبو او انرژۍ وزارت خبر ورکړی، چې «بي پي ټي ال» بنګله‌دېشي شرکت په افغانستان کې له ۱۰۰ - ۱۰۰۰ میګاواټه لمریزې برېښنا د تولید په برخه کې پانګونې ته لېوالتیا ښودلې ده.

د یاد وزارت اېکس‌پاڼه لیکل شوي، چې د دغه بنګله‌دېشي شرکت رییس «محمد اسحاق ابوالخیر» د اوبو او انرژۍ وزارت له رییس، مولوي رحمت‌ولي رحماني سره په کتنه کې ویلي، چې په افغانستان کې دې له ۱۰۰ - ۱۰۰۰ میګاواټه لمریزې برېښنا د تولید پروژو د پانګونې لپاره له دوی سره همکاري وشي.

د اوبو او انرژۍ وزارت د خبرپاڼې له مخې په دې کتنه کې د پانګونې د جلب او جذب رییس د لمریزې برېښنا انرژۍ د تولید پروژو په برخه کې د یاد ... ۳مخ

د وربښمو پل له لارې د ٦۵ زره افغانانو راستنېدل

د نیمروز ولایت د وربښمو پل له لارې د تېرې یوې اوونۍ په ترځ کې شاوخوا ۶۵ زره افغانان هېواد ته راستانه شوي دي.

د یاد ولایت مقام د رسنیو دفتر په خپله اېکس پاڼه لیکلي، د دې ولایت والي شیخ محمد قاسم خالد په دوامداره توګه د کډوالو د راستنېدو له بهیر څخه لیدنه کوي او د ولایت ټولو مسئولینو ... ۳مخ

سلګونو معتادینو ته د حرفوي زده کړو زمینه برابره شوې

د کار او ټولنیزو چارو وزارت اروند د څرخي پله د فني او حرفوي زده کړو په مرکز کې له اعتیاده رغېدلو ۸۰۰ تنو ته په پنځو حرفو کې د زده کړو زمینه برابره شوه.

د یاد وزارت د فني او حرفوي زده کړو د مراکزو د تنظیم رییس مولوي عبدالواحد فایز په همدې مناسبت جوړه شوې غونډه کې له دغو تنو څخه غوښتنه وکړه، څو له شته فرصت او امکاناتو څخه په لازمه استفاده او خپلو زده کړو ته پاملرنه وکړي.

په ورته وخت کې د کار او ټولنیزو چارو وزارت د کار چارو معین مولوي محمد زاهد احمدزي په خپلو خبرو کې وویل چې دا وزارت د خپلو نورو مسئولیتونو ترڅنګ، له اعتیاده رغېدلو اشخاصو ته د فني او حرفوي زده‌کړو د زمینې برابرولو په لړ کې یو ځل بیا ... ۳مخ

د روسیې له لوري د اسلامي امارت رسمیت پېژندنه؛ د نړیوال مشروعیت پر لور مهم ګام بلل شوی

شریعت: د روسیې له لوري د اسلامي امارت رسمیت پېژندنې ته نه یوازې دا چې د سیمې د مهم بدلون په سترګه کتل کېږي، بلکې تمه دا ده، چې دا پرېکړه به نور هېوادونه وهڅوي، څو د افغانستان له نوي واقعیت سره ځان اشنا او د اسلامي امارت نظام ته نړیوال مشروعیت ورکړي.

د جولای په درېیمه؛ روسیې د اسلامي امارت د رسمیت پېژندنې خبر خپور کړ، چې دا ګام د افغانستان د بهرني سیاست لپاره یو مهم پرمختګ ګڼل کېږي.

اسلامي امارت د روسیې د دې تصمیم هرکلی کړی او د دواړو هېوادونو ترمنځ یې د متوازن او متقابل درناوي پر بنسټ د اړیکو د پراختیا څرګنده نښه بللې ده. د روسیې سفیر هم، دغه چاره د افغانستان او روسیې تر منځ د اړیکو د پیاوړتیا لپاره تاریخي ګام یاد کړی دی.

دغه راز په قطر کې د اسلامي امارت سفیر سهیل شاهین څرګنده کړې، چې روسیه د اسلامي امارت په رسمیت پېژندلو سره د هغو هېوادونو له ډلې جلا شوه، چې د فشار او خپلو سیاسي موخو ته د رسېدو لپاره اسلامي امارت په رسمیت نه پېژني.

هغه په خپله تازه مرکه کې ویلي، چې د روسیې دغه ګام به نور «همفکره» هېوادونه هم د اسلامي امارت رسمیت پېژندنې ته وهڅوي.

کارپوهان باور لري، چې د روسیې دا اقدام به نور هېوادونه، په تېره د منځنۍ اسیا، ختیځې اروپا او د شانګهای سازمان غړي هېوادونه هم وهڅوي، څو له اسلامي امارت سره خپل چلند ته نوی رنګ ورکړي. سیاسي کارپوه ... ۳مخ

له ازبیکستان څخه د ۵۰۰ کیلوولټ برېښنا مزي پر لېږد بحث شوی

د افغانستان برېښنا شرکت عمومي اجرائیوي رئیس ډاکټر عبدالباري عمر، د ازبیکستان د انرژۍ له وزیر سره د ویډیو کنفرانس له لارې د ۵۰۰ کېلوولټ برېښنا لېږد مزي پروژې په اړه خبرې کړې دي.

د افغانستان برېښنا شرکت د معلوماتو له مخې؛ په دغه کنفرانس کې ډاکټر عمر د افغانستان... ۳مخ

پنجشیر کې ترافیکي پېښې د دوو تنو ژوند اخیستی

د پنجشیر ځايي مسئولینو خبر ورکړی، چې د یاد ولایت په «خنج» ولسوالۍ کې د ترافیکي پېښې له امله دوه کسان مړه او نهه نور ټپیان شوي دي.

د دغه ولایت د امنیې قوماندانۍ په خبرپاڼه کې ویل شوي، چې دا پېښه د خنج ولسوالۍ په «بام وردار» سیمه کې د «فلان‌کوچ» موټر د چپه‌کېدو له امله رامنځته شوې ده.

د مسئولینو پر وینا چې دا موټر له شاوخوا ۱۵۰ متره لوړ ځای څخه راغورځېدلی او لامل یې د برېک په سیستم کې رامنځته‌شوې ستونزه وه.

له تېرو نږدې څلورو کلونو راهیسې د هېواد په بېلابېلو سیمو کې ترافیکي پېښې په بې‌سارې توګه زیاتې شوې، چې ستر لاملونه یې د چلوونکو بې‌احتیاطي، ګړندی تګ او د ترافیکي اصولو نه‌مراعاتول بلل کېږي.

سرمقاله

عاشورا؛ د عدالت او سربښندنې ورځ

د محرم لسمه، یا د عاشورا ورځ، نه یوازې د اسلامي تاریخ یوه لویه پېښه ده؛ بلکې د مظلومیت، سربښندنې، حق غوښتنې او بې سارې وفادارۍ سمبول هم دی. دا ورځ موږ ته د حضرت امام حسین رضی الله عنه او د هغه د ۷۲ یارانو د هغې سترې قربانۍ یاد را ژوندی کوي، چې د کربلا په توده دښته کې یې د حق او عدالت د بیرغ د هسک ساتلو په موخه خپل سرونه نذرانه کړل.

عاشورا یوازې یوه تاریخي پېښه نه ده؛ بلکې یو تلپاتې پیغام دی؛ هغه دا چې باید ظلم ته هېڅکله سر ټیټ نه شي، باطل ته څوک تسلیم نه شي او د حق لپاره دې تر وروستۍ ساه پورې دریځ ونیول شي. امام حسین (رض) او یاران یې له هغه څه تېر شول، چې عادي انسانان ترې تېرېدلی نه شي، خو هغوی د الله تعالی رضا او د امت لارښوونې ته ژمن پاتې شول.

د عاشورا ورځ په نورو اسماني دینونو کې هم یوه ارزښتمنه ورځ ده. د اسلامي منابعو له مخې، په همدې ورځ د حضرت آدم (ع) توبه قبوله شوه، د حضرت نوح (ع) کښتۍ وژغورل شوه، حضرت یونس (ع) له ماهي څخه خلاصون وموند او د حضرت موسی (ع) امت پر فرعون برلاسی شو. دغه ټولې پېښې موږ ته دا راښیي، چې د حق لار که څه هم سخته ده، خو بالاخره د کامیابۍ پایله لري.

افغانان هم د همدې پیغام وارثان دي. د عاشورا له روحیې سره سم، زموږ ملت تل د ظلم پر وړاندې درېدلی او د عزت، عدالت او خپلواکۍ لپاره مبارزه کوي. اسلامي امارت، چې د افغانستان مشروع اسلامي نظام دی، د ملت مذهبي ارزښتونو ته ژور درناوی لري او د ټولو قومونو عقایدو ته د درناوي په سترګه ګوري.

سږ کال، د محرم الحرام د مراسمو د نمانځنې لپاره د اسلامي امارت زرورو امنیتي ځواکونو د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې د امنیت جدي تدابیر نیولي وو، څو هېوادوال وکولای شي، چې په امنه فضا کې خپل دیني مناسک ترسره کړي. لله الحمد؛ د محرم لسمه ورځ او د اهل تشیعو مراسم پرته له کومې امنیتي پېښې په سوله ییزه فضا کې ترسره شول، چې دا د امنیتي ارګانونو د هلو ځلو او مسلکي مدیریت پایله ده.

موږ د دې ورځې په مناسبت د کربلا له شهیدانو نیولې تر هغو ټولو شهیدانو پورې، چې د اسلام، وطن، خپلواکۍ او د افغانستان د عزت لپاره یې سرونه قربان کړي، د دعا لاسونه لپه کوو. دا سربښندنې وې، چې نن موږ ته د یوه اسلامي نظام نعمت را په برخه شوی دی. ۳مخ

د رسمیت پېژندنې هنګامه او داخلي مخالفتونه ۲

له تقابل تر تعامله؛ روسیه او اسلامي امارت ۲

۳٦۰ خبرې ۲

افغان اعلانات ۳

د رسمیت پېژندنې هنګامه او داخلي مخالفتونه

خالقیار احمدزی

لـه څـه کـم څلـورو کلونـو وروسـته، بالاخـره د سـیمې او نـړۍ سیاسـي او اسـتخباراتي چینلونـو درک کـړه، چـې افغانسـتان نـور لـه هغـې زاویـې وتلـی چـې دوی پـه کـې خپلـې تمریناتـي لوبـې ترسـره او دلتـه د خپلـو زر خریـدو ایجنټانـو پـر مـټ د اوربدو او لنـډ مهالـو ګټـې خونـدي وسـاتي.

ګاونډیانـو د مهاجرینـو لـه اخـراج نیولـې، بیـا تـر مخامـخ تبلیغاتـي او فزیکـي تهاجماتـو پـورې پرلـه پسـې تکـراري هڅـې وکـړې او لنـډه دا چـې هیـڅ کـوم لـوري خپـل تـر وسـه مزاحمتونـه دریـغ نـه کـړل.

خـو اسـلامي امـارت لـه ټولـو سـره د متـوازن او بـې پـرې سیاسـت داعیـه مختـه وړلـه او ټولـو تـه یـې پـر همدغـه مسـیر د مختـه تـګ وړاندیـز کاو.

روسـیې کـه څـه هـم پـه ۹۰ یمـو کلونـو کـې د افغانسـتان جغرافیـه تنـور او خلـک یـې پـه پراخـه کچـه پـه کـې کبـاب کـړل خـو اوسـنی مثبـت اقـدام یـې هـم د دوی او هـم د افغانسـتان پـر ګټـه دی.

دغـه هېـواد کـه څـه هـم پـه سیاسـت کـې څـو ځلـه ناکامـه ازموینـه ورکـړې او د خپلـو ګټـو تـر حصولـه یـې یـاري مختـه وړې، لـه دغـه ګام سـره یـې هـم بایـد ځیـرک تعامـل وشـي او د سیاسـت د تعریـف لـه مخـې چـې د ملـي ګټـو پـه رڼـا کـې دوسـت او دښـمن ټـاکل کېـږي، د همـدې اصـل لـه مخـې ورسـره تـګ پـه کار دی.

داخلي سـتونزې:

دلتـه مـوږ د داسـې تربرونـو پـه منـځ کـې پراتـه یـوو، چـې لومـړی مـو خپلـه داړي، کـه یـې زور را بانـدې ونـه رسـېد، د بـل کلـي لیوانـو تـه د متـاع قلیـل پـه بـدل کـې زمـوږ د داړلـو لپـاره لار ورکـوي!

روسـیې چـې کـوم ګام واخیسـت، لـرې نـه ده، چـې ژر بـه یـې نـور همسـایه او یـو شـمېر عربـي او آن ځینـې اروپایـي هېوادونـه هـم پـه نوبـت سـره لار تعقیـب کـړي، خـو مـوږ هـم بایـد پـر سیاسـي مسـیرونو د تـګ لپـاره څـو ارزوونکـي غلبیلونـه ولـرو، چـې وینـا او عمـل مـو د خپلـواک اسـلامي نظـام د داعیـې مطابـق شـمېرلی وي.

مـوږ د فکـري مخالـف کړسـنده خنـدا د ایـران او اسـرائیلو پـه شـخړه کـې ولیـده؛ پـه داسـې حـال کـې چـې یـاد هېـواد د جمهوریـت پسـواندی لـه نـوم سـره تړلـی او تـر ډېـره یـې وګـړي فـردي ازادۍ هـم لـري، خـو بیـا یـې هـم تښـتیدلو د یـوه سـوچه لیبـرال نظـام د قـوام او قیـام لپـاره د اوسـني اخونـدي رژیـم د نسـکورولو او د اسـرائیلو د بریـا لپـاره پـه کومـه کچـه لاسـونه وپړکـول...

هـو! زمـوږ مخالفینـو هـم پـوره ۳ کالـه نـه کومـه کوڅـه پرېښـوده او نـه کـوم ګـودر، پـه هـر ځـای کـې یـې د بهرنیانـو ملاتـړ پسـې کچکـول وګرځـاو، خـو پخوانیـو بادارانـو یـې نـور د قلنـګ لـه ورکـړې ځکـه ڼټـه وکـړه، چـې تېـر شـل کلـن فرصـت کـې یـې د هېـواد او ارزښـتونو د لیـلام برخـه کـې تـر تنخـوا زیاتـه وفـاداري ثابتـه کـړې وه او همـدې کار بـې حیثیتـه کـړي هـم ؤ.

دوی کـه څـه هـم د داخلـي نـا امنـۍ، د نوامیسـو او ارزښـتونو د پلـور لپـاره خپـل تـر وس پورتـه خـواري وکـړه، خـو داچـې پردیـو ګټـو تـه ژمـن وګـړي هیـڅ لـوري تـه بـاوري یـاران نـه وي، نـو د بریـا تـر پولـو رسـېدنه هـم ورتـه داسـې برېښـي لکـه آسـمان تـه د شـیاطینو ختـل؛ چـې لـه رسـېدو سـره سـم د شـهاب ثاقـب ښـکار کېـږي.

افغـان نمـا برېڅـو چـې څـه بانـدې ۴ لسـیزې لـه مـوږ سـره وټنګولـه، لامـل یـې د پولـې پټـې شـراکت نـه ؤ، بلکـې د پردیـو ګټـو او ارزښـتونو خوندیتـوب تـه نګـه ژمنتیـا وه، چـې تـر پایـه یـې د حصـول لپـاره دلـۍ دلـۍ ککـرۍ لـه لاسـه ورکـړې.

اوس چـې یـې د هوسـونو اشـباع ختمـه شـوې، نـو خـود بـه د هېـواد د ثبـات لپـاره د یـوه مسـئولیت پذیـر او مرکـزي نظـام پـر احیـاء کېـدو اوښـکې تویـوي، ګـرده نـړۍ بـه هـم ورتـه جاهلـه ښـکاري، چـې دوی یـې شـاته پرېښـودل او د دوی فکـري مخالفینـو تـه یـې د رسـمیت پېژندنـې شـین څـراغ ورکـړ.

پـه اوسـني وخـت کـې ګاونـډ او نـړۍ درک کـړې، چـې افغانسـتان یـې د تجـارت، اقتصـادي ګټـو او ترانزیـټ لپـاره مهمـه لار ده او افغانسـتان کـې د هـرې سـکروټې تـازه کېـدل، د ټولـې سـیمې پـر زیـان دي، نـو اړ دي، چـې د لارې پـه اوږدو کـې د ټامیانـو چـغ پـغ تـه لـه پـام پرتـه، د ا.ا.ا سـره د سـیال پـه توګـه تعامـل تـه را وړانـدې شـي؛ لـه دې پرتـه بلـه لار نـه لـري.

د افغانسـتان اسـلامي امـارت پـه رسـمیت پېژنـدل، یـوازې د حاکـم نظـام پـه ګټـه نـه، بلکـې د افغانسـتان د ټولـې جغرافیـې اوسـېدونکو او... لپـاره پـه ګټـه ده.

له تقابل تر تعامله؛ روسیه او اسلامي امارت

حمزه الیاس

د روسـیې فدراسـیون د ا.ا.ا پـه رسـمیت وپېژانـد؛ د روسـیې هېـواد یـاد اقـدام د واقعیتونـو درک او پـر متقابـل احتـرام او ګټـو پـر بنسـټ ولاړ اقـدام دی.

کـه څـه هـم روسـیه لـه افغانسـتان سـره پولـه نـه لـري، خـو د سـیمې د تړلتیـا پـر اسـاس پـه افغانسـتان کـې هـر رقـم تحـول پـر روسـیې هـم اغېـز لـري، باثباتـه افغانسـتان نـه یـوازې د سـیمې، بلکـې د روسـیې ګټـې هـم تضمینوي، نـو همـدې ټکـو تـه پـه کتـو د روسـیې پـه بهرنـي سیاسـت کـې افغانسـتان تـه ځانګـړی ځـای ورکـړل شـوی دی.

د ۲۰۰۱ زیږدیـز کال د سـپتمبر تـر ۱۱مـې پېښـې وړانـدې روسـیې د ا.ا.ا سره نـه تنهـا اړیکـې نـه لرلـې، بلکـې خندونـه او ژور تقابـل وجـود درلـود.

پـه ۲۰۰۱ زیږدیـز کال کـې پـر افغانسـتان د نړیـوال ایتـلاف پـر مهـال روسـیه لومړنـی هېـواد و، چـې د ا.ا.ا پـر وړانـدې لـه دې ایتـلاف سـره همـکاري وکـړه او د روسـیې ولسمشـر ویـلاد میـر پوتیـن لومړنـی شـخص و، چـې د نړیـوال ایتـلاف پـر افغانسـتان یرغـل تـه یـې مثبتـه رایـه ورکـړه، خـو پـه افغانسـتان کـې د نړیـوال ایتـلاف ناکامـي د روسـیې لاره جـلا کـړه، پـه بهرنـي سیاسـت کـې یـې د افغانسـتان پـه اړه مفکـوره بدلـه کـړه او لـه ا.ا.ا سره یـې اړیکـې ټینګـې کـړې او نـوې تـګلاره یـې وټاکلـه.

د ا.ا.اپه اړه د روسیې لیدلوری؛

د افغانسـتان پـه اړه د روسـیې سیاسـي لیدلـوری مخکـې داسـې و؛ چـې افغانسـتان د اتنیکـي ګروپونـو څخـه جـوړ هېـواد دی، چـې پـه کـې اتحـاد، یووالـی او کورنـۍ جګـړې پـه کـې دوام لـري، نـو ځکـه بـه یـې هڅـه دا وه، چـې افغانسـتان پـه منـزوي برخـه کـې کار وکـړي او د شـمالي ولایتونـو د خلکـو او جنګیالیـو ملاتـړ وکـړي، تـر څـو پـه دې خـط کـې پراتـه هېوادونـه لـه مخـدره مـوادو د قاچـاق او ترهګریـزو بریدونـو لـه وېـرې مطمئـن شـي، خـو دا مفکـورې او محاسـبه یـې هغـه وخـت تغییـر کـړه، چـې پـه افغانسـتان کـې د نړیـوال ایتـلاف ناکامـي یـې ولیـده او اندېښـنې یـې نـورې هـم زیاتـې شـوې.

خـو اوس یـې د افغانسـتان پـه اړه سیاسـي لیدلـوری یـو څـه دا ډول دی؛ "پـه افغانسـتان کـې واحـد، مرکـزي او قـوي حکومـت رامنځتـه کېـدل د مخـدره توکـو او ترهګـرۍ څخـه خـلاص باثباتـه افغانسـتان تضمینـوي، چـې هـم د سـیمې او هـم د روسـیې پـر ګټـه بانـدې دی."

د روسـیې پورتـه لیدلـوری د افغانسـتان د سـتونزو اساسـي حـل دی، دا چـې روسـیه پـه افغانسـتان کـې د مخـدره توکـو د قاچـاق او ترهګـرۍ پـر وړانـدې د مبـارزې پـه موخـه لـه نړیـوال ایتـلاف سـره یـو ځـای شـوه، خـو د وخـت پـه تېرېـدو سـره یـې اندېښـنې لا زیاتـې شـوې، نـو یـې د نړیـوال ایتـلاف څخـه خپـل لاره جـلا کـړه او د افغانسـتان اسـلامي امـارت سـره یـې اړیکـې پیـل کـړې او خپـل سیاسـي تعریـف تـه یـې بدلـون ورکـړ او خپـل بهرنـی لیدلـوری یـې لـه حاشـیې تـر هندسـې تغییـر کـړ.

روسـیې اوس دا حقیقـت درک کـړی، چـې طالبـان پـه افغانسـتان کـې یـو بـا نفـوذه ډلـه ده او د پورتـه اندېښـنو پـر وړانـدې تعقیـب هـم جـدي دی، نـو ځکـه یـې اړیکـې لا هـم پراخـې کـړې، پـه داسـې حـال کـې چـې داعـش د سـیمې او منطقـي ثبـات تـه ګـواښ پېښـوي او د سـیمې مشـترکو ګټـو تـه زیـان رسـوي، دا چـې د سـیمې بـې ثباتـي پـر روسـیې هـم اغېـز ژور لـري او ا.ا.ا یـې پـر وړانـدې ډېـر جـدي او کامیـاب اقدامونـه ترسـره کـړي، نـو دا هـم یـو دلیـل کېـدلی شـي، چـې د روسـیې د ا.ا.ا اړیکـې نـورې هـم پراخـې کـړي، لکـه څنګـه چـې د روسـیې ځانګـړي اسـتازي ضمیـر کابلـوف ویلـي؛ طالبـان پـه افغانسـتان کـې د هغـو خلکـو پـر وړانـدې جنګېـږي، چـې مـوږ پـه سـوریه کـې جنګېـدلـو، نـو لـه همـدې املـه زمـوږ ګټـې سـره مشـترکې دي.

له ا.ا.ا سره په اړیکو کې د روسیې موخې؛

د روسـیې لـه تقابلـه تـر تعاملـه د ا.ا.ا پـه اړه د سیاسـي پالیسـۍ او لیدلوري بدلـون او د نړیـوال ایتـلاف څخـه د روسـیې جـلا کېـدل او لـه ا.ا.ا سـره د اړیکـو پرانیسـتل لـه ټولـو مهـم عامـل د افغانسـتان د اصلـي حقیقتونـو درک دی، چـې واحـد، قـوي او مرکـزي حکومـت درلـودل دي.

د افغانسـتان جیوپولیټیـک موقعیـت د دې سـبب ګرځېـدلـی؛ تـر څـو د نـورې نـړۍ تـر څنـګ د روسـیې چـې د مرکـزي اسـیا لـه لارې لـه افغانسـتان سـره نښـلېږي، پاملرنـه ځانتـه را واړوي، ځکـه چې افغانستان د جیوپولیټیـک لـه اړخـه کـولای شـي، چـې روسـیه د مرکـزي اسـیا لـه لارې لـه سـویلي اسـیا سـره ونښـلوي او همدارنګـه اقتصـادي څلـور لارې او سـوداګریز دهلېزونـه پرانېـزي او د ترهګـرۍ د ځالـې پـر ځـای یـو اقتصـادي محـور جـوړ شـي، نـو ځکـه ویـلای شـو، چـې پـه افغانسـتان کـې هـر ډول حـالات د روسـیې پـر ګټـو اغېـزه کـوي؛ کـه چېـرې دغـه حـالات مثبـت وي؛ نـو لېـرې نـه ده، چـې روسـیه بـه نـه یوازې لـه امنیتـي اړخـه ډاډمـن وي، بلکـې لـه اقتصـادي اړخـه بـه د افغانسـتان لـه جغرافیـې څخـه چې د سـویلي اسـیا او مرکـزي اسـیا د نښـلولو پـه برخـه کـې مهـم رول لـري ګټـه ترلاسـه کـړي او سـربېره پـر دې بـه د مخـدره توکـو د قاچـاق پـه برخـه کـې چـې لـه افغانسـتانه دغـه هېـواد تـه لېږدول کېـدل؛ مخـه ونیـول شـي.

لـه بلـه اړخـه کـه چېـرې دغـه حـالات منفـي لـوري تـه لاړ شـي؛ نـو لکـه څرنګـه چـې پورتـه مـو یادونـه وکـړه، د روسـیې ټولـې ګټـې لـه ګـواښ سـره مـخ کېـږي.

پایله؛

نـو پورتـه ټـول هغـه لاملونـه دي، چې د روسـیې پـه سیاسـي لیدلـوري کـې د افغانستان پـه اړه لیدلـوری لـه حاشـیې تـر محاسـبې پـورې بدلـون کـړی او لـه تقابلـه یـې تعامـل تـه پالیسـي تـه نـوې بڼـه ورکـړې ده، نـو د ا.ا.ا تـه هـم پـه کار ده، چـې د فرصتونـو پـه کتـو سـره وکولـی شـي، چـې پـه نړیوالـه ټولنـه کـې مدغـم شـي او د ځـان لپـاره یـو سیاسـي ملاتـړي چمتـو کـړي، نړیـوال مشـروعیت پیـدا کـړي او همدارنګـه یـاد فرصـت لـه اقتصـادي اړخـه هـم ډېـر مهـم دی، چـې کولـی شـي، نړیـوال تجـارت او نړیـوال اقتصـادي سـازمانونو برخـه وګرځـي.

۳۶۰ خبرې

آتهٔ دېرشمه برخه / امین وردګ

قرآن کریم د بشریت کتاب دی

۱۸۶یمـه خبـره- دا چـې قـرآن کریـم د ټـول بشـریت لپـاره د نجـات کتـاب دی، نـو بایـد پـهٔ هـرو سـلو کلونـو کـې یـو ځـل (پـهٔ نـوې بڼـه) تفسـیر هـم شـي، تـر څـو پـهٔ هـره زمانـه کـې هـر نسـل خپـل ځـای، خپـل ځـان او خپـل مسـیر پـه کـې وپېژنـي.

ستر دنیوي عذاب

۱۸۷یمـه خبـره- سـتر دنیـوي عـذاب دا دی، چـې خپلـه کورنـۍ درنـه بېـزاره وي.

بختور پلار

۱۸۸ یمـه خبـره- بختـور پـلار هغـه دی، چـې پـهٔ لیـدو یـې د اولادونـو زړونـه لـه خوشـالۍ الـوزي او پـهٔ بېلېـدو یـې لـه خپـګان څخـه څړیکـې وهـي.

بدعت

۱۸۹یمـه خبـره- هـر نـوي شـي تـه بدعـت ویـل کېـږي، خـو بدعـت بیـا علمـاؤ پـهٔ دوو برخـو وېشـلی (بدعـت الحسـنه او بدعـت السـیئه) نـو کـهٔ زهٔ یـو داسـې بدعـت وکـړم، چـې یـو ځـل مخامـخ او کامـلاً سـیده قبلـې تـه و دریـږم، امـا مخکـې لـه دې چـې هغـې خواتـه لمونـځ پیـل کـړم (°۱۸۰) درجـې (یانـې کامـلاً شـا تـه) تـاو شـم (ګـواکـي پـهٔ افغانسـتان کـې د ختیـځ لـوري تـه ودرېـږم) نیـت وکـړم او لمونـځ همغـې خـوا تـه ختـم کـړم، نـو زمـا دا عمـل بدعـت الحسـنه شـو کـهٔ بدعـت السـیئه؟ زمـا لمونـځ وشـو کـهٔ نـه؟ پوهېـږم چـې پـه دې نقطـه یـوازې پوهـان پوهېدلـی شـي او نـور کسـان بـهٔ کېـدای شـي ډېـرې خبـرې پـه کـې وکـړي، خـو پوهـان بـهٔ ووایـي چـې سـتا لمونـځ بلـکل وشـو! ځکـه چـې کعبـې شـریفې تـه مخامـخ ولاړ وې، خـو یـوازې پـدې توپیـر، چـې هغـې خـوا تـه قبلـه لیـرې کېـږي (چـې ممکـن ثـواب یـې کـم شـي) او دېخـوا تـه نـږدې ده چـې ممکـن ثـواب یـې زیـات وي، کنـه نـو قبلـه خـو هماغـه یـوه کعبـه شـریفه ده! نـهٔ پوهېـږم چـې پـوه شـوئ کـهٔ نـه؟ مطلـب مـوږ لـه تکنالـوژۍ څخـه دومـره شـاته پاتـې یـو، چـې کعبـه فقـط همدغـې یـوې خواتـه پېژنـو، حـال دا چـې ځمکـه کـروي شـکل لـري او کعبـه شـریفه یـې پـر پوسـت جـوړه شـوې، نـو کـهٔ مـوږ کعبـې تـه مخامـخ ور روان شـو او پـر ټولـه کُـره د ځمکـې راوګرځـو، بېرتـه خپلـې مسـئلې تـه راځـو او کـهٔ ختیـځ لـوري تـه حرکـت وکـړو او بیـا هـم د ځمکـې پـر ټولـه کُـره راوګرځـو، نـو بېرتـه د لوېدیـځ لـه خـوا خپلـې مسـئلې تـه راځـو؛ عینـاً لکـه یـوه کاملـه دائـره چـې اول یـې آخـر هـم وي! نـو اوس پـوه شـوئ چـې زمـا لمونـځ شـوی دی.

له قبره پیغام

۱۹۰یمـه خبـره- خبـر وم، چـې مـړ کېـږم، خـو غافـل وم! ځکـه خـو دلتـه تـش لاسـونه راغلـم، نـو اې ژوندیـو! تاسـو پـام کـوئ چـې تـش لاس را نـهٔ شـئ.

کونړ کې د لسګونو پروژو چارې پیل...

چــې د کونړ ولس د اســلامي نظــام د بریــا او ثبات په برخه کې نــه هېرېدونکي خدمتونه کړي، نو د اســلامي نظام مســئولین هم ژمن دي، چې د ولــس د اخلاص او قربانیو قدرداني وکړي او بنســټیز خدمات ورته ورســوي. نومــوړي زیاته کړې، چې له نورستان وروســته په کونړ کــې د صحت، پلونو، د اوبو شــبکو او ســړکونو په برخو کــې د ۳۵ پروژو د پیل شــاهدان یــو او إن شــاءالله په بشــپړېدو ســره به یې د خلکو ډېرې ستونزې هوارې شي. د ســیمې ولســي مشــرانو د اســلامي امارت له لوري د دې پــروژو پیل ته خوښــي ښــودلې او ویلــي یې دي، چــې دا د متــوازن انکشــاف، ســوکالۍ او د اشــغال پر وړانــدې د خلکــو د کلونــو قربانیو عملي ځــواب دی. هغوی غوښتنه کړې، چې دا ډول خدمتونه دې د کونړ نورو سیمو ته هم وغځول شي، تر څو د خلکو اړتیاوې په لا ښه ډول پوره شي.

افغان اعلانات

موضوع: اعلان داوطلبی

شماره داوطلبی: MOE/G-029 /1404/NCB

وزارت معارف ازتمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می‌نماید تا درپروسه داوطلبی پروژه تهیه و خریداری ۳ قلم وسایل لابراتوار و کمپیوتر لب ها ضرورت ریاست مرکز ساینس بابت سال مالی ۱۴۰۴ اشتراک نموده و سافت کاپی شرطنامه مربوط را درحافظه یافلش دسک از ریاست تدارکات وزارت معارف بدست آورده آفرهای خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق قانون و طرزالعمل تدارکات طور سربسته ازتاریخ نشراعلان الی ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر روز پنجشنبه تاریخ ۰۹/ اسد/۱٤۰٤ به ریاست تدارکات وزارت معارف واقع ده افغانان، جاده محمد جان خان ارایه نمایند. آفرهای ناوقت رسیده و انترنیتی قابل پذیرش نمیباشد.

تضمین آفر بصورت تضمین بانکی و یا پول نقد مبلغ ۱۲۰۰۰۰ - یک صدو بیست هزار افغانی بوده وجلسه آفرگشایی بروز پنجشنبه تاریخ ۰۹/ اسد/۱٤۰٤ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر در صالون افرگشائی ریاست تدارکات وزارت معارف تدویر میگردد.

***

موضوع: اعلان داوطلبی

دعوت برای داوطلبی باز ملی : MOE/G-08 /1404-NCB

وزارت معارف ازتمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می‌نماید تا درپروسه داوطلبی پروژه تهیه و خریداری الماری چهار روکه تعداد ٦۰ پایه الماری دو روکه فلزی تعداد ۱۰۰ پایه جهت نگهداشتن سوانحات و الماری دو پله یی فلزی تعداد ۴۰ پایه جهت نگهداری فایل ها طبق نمونه ریاست خدمات بابت سال مالی ۱۴۰۴.اشتراک نموده و نقل چاپ شده شرطنامه مربوط را درحافظه یافلش دسک بدست آورده آفرهای خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه وطبق قانون وطرزالعمل تدارکات طورسربسته ازتاریخ نشراعلان الی ساعت ۱۰:۰۰قبل از ظهر روز سه شنبه تاریخ ۰۷/اسد/۱٤۰٤ به ریاست تدارکات وزارت معارف واقع ده افغانان، جاده محمد جان خان ارایه نمایند. آفرهای ناوقت رسیده وانترنیتی قابل پذیرش نمیباشد.

تضمین آفربصورت تضمین بانکی و یا پول نقد مبلغ ٤۱,۰۰۰ چهل ویک هزار افغانی بوده وجلسه آفرگشایی بروز سه شنبه تاریخ ۰۷/اسد/ ۱٤۰٤ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر در صالون افرگشائی ریاست تدارکات وزارت معارف تدویرمیگردد.

***

اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم شرکت حسیب صدیقی لمتید یک عراده موتر پلیت ۹۱۵۶- ۳ ش کابل نوع تیوتا کرولا سالون خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای جواد فرزند محمد طاوس بفروش رسانیده است.

بناء اشخاص ادارات و موسساتی که با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۱۳٦

***

اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم شرکت برادران اچکزی لمتید یک عراده موتر پلیت ۸۹۲۷ بس کابل نوع تیوتا کاسترجاپانی خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای عبدالرحیم فرزند عبدالکریم به فروش رسانیده است.

بناء اشخاص ادارات و موسساتی که با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۱۵۲

***

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد هادی اکبری فرزند محمد صادق مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد.۱۳۴۷۴

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم نثار احمد اچکزی فرزند نیک محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد.۱۳۴٦۵

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم سید احسام الدین حسینی فرزند سید عبدالرحیم مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد.۱۳۴۸٦

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم فرامرز عزیزی فرزند سردار مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد.۱۳۴٦۸

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد نعیم اچکزی فرزند سیف الملوک مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد.۱۳۴٦۹

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم بوستان علی حسینی فرزند دولت حسین مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد.۱۳۴۷۰

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم ظریف خان محمدی فرزند علی خان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد.۱۳۴۷۱

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم ذین الله سلطانی فرزند سلطان مراد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد.۱۳۴۵۸

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عبدالرحمن دولت فرزند خال محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد.۱۳۴۵۰

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم شیردل همدرد فرزند حاجی محمد گل مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد.۱۳۴٦۹

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم سهراب دهقان فرزند نظر محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد.۱۳۴٦۲

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم گل محمد مرادی فرزند دوست مراد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد.۱۳۴٦۱

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم سلیم احمدزی فرزند تراب خان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد.۱۳۴۴۲

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم حباب احمد حبیبی فرزند حیات الله مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد.۱۳۴۳۲

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم مجیب الرحمن ابراهیمزی فرزند سید نظر مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد.۱۳۴۳۳

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم شیر محمد رضوانی فرزند عبدالسلام مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد.۱۳۴۳۴

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم فاروق یوسفزی فرزند عزیز الرحمن مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد.۱۳۴۳۵

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد انور ایوبی فرزند محمد اسلم مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد.۱۳۴۳٦

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم زرغونه میرزایی فرزند فتح محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد.۲۰۲۳

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم شکیبا عزیزی بنت رحمت الله مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد.۲۰۲۲

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم حکمت الله سلمان زاده فرزند احمد شاه مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد.۱۳۴۳۹

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم ذبیح الله فرزند عبدالشکور مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد.۱۳۴۲٦

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عبدالقادر رسولی فرزند عبدالرسول مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد.۱۳۴۲۷

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم شیر علی افغان فرزند سورگل مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد.۱۳۴۲۸

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم ملاخان فرزند احمد شاه مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد.۱۳۵۳۳

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم حکمران فرزند قربان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد.۱۳۵۲۹

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم شفیع الله نیازی فرزند نازکمیر مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد.۱۳۵۲۱

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم علی خان باچاخیل فرزند اقبال مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد.۱۳۵۳٦

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم فیروز احمد فرزند گل احمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد.۱۳۳٦۴

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم شریف الله محبی فرزند صفر محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد.۱۳۳۷۱

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم فرح دیبا نور حبیب فرزند امان الله مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد.۱۳۳۷۲

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم حسیب نظری فرزند سرفراز مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد.۱۳۳۸۹

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم سبحان الله معروف خیل فرزند امان الله مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد.۱۳۳۹۳

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم سکندر احمدزی فرزند محمد لونگ مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد.۱۳۳٦۳

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم بادام گل فرزند عبدالله مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد.۱۳۳٦۱

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم نعمت الله فرزند علی مدد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد.۱۳۳۵۹

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم قدرت الله فرزند علی مدد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد. ۱۳۳٦۰

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم نجیب الله نظری فرزند حسین داد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد.۱۳۳۵۷

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم بلال احمد قبادی فرزند محمد خالد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد.۱۳۳۵۸

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم گلبدین فرزند عزت الله مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد.۱۳۳۵۵

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم حیدر طاهری فرزند طاهر مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد.۱۳۳۵٦

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم سلمان علی حسنی فرزند چراغ علی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد.۱۳۳۵۳

اطلاعیه فروش موتر

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم بصیر بارکزی فرزند شیر محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد.۱۳۳۵۴

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم شمس الله فرزند شمین خان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد.۱۳۳۵۲

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم نور محمد مرادی فرزند میر علم مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد.۱۲۴۲۹

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم نرگس جوادی بنت محمد مشتاق مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد.۲۰۰۳

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم احمدزی شینواری فرزند توریالی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد.۱۳۳۵۱

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم خان زمان محمدی فرزند غلام علی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد.۱۳۳۴۹

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم زینب بنت فضل احمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد. ۱۳۵۰

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم یوسف فرزند چراغ علی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد.۱۳۳۴۹

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم شا مرزا فرزند عبدالرفع مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد.۱۳۳۴۷

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد حسین فرزند محمد ظفر مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد.۱۳۳۴٦

۱۴ ولایتونو کې د ورښت او سېلابونو...

چلند وزارت په خبرپاڼه کې همدا راز په شمالي، ختیځو، سویل ختیځو، سویلي، لوېدیځو او مرکزي ولایتونو کې د لنډمهاله چټکو بادونو، خاورو او دوړو د را الوتو خبرداری هم ورکړی دی.

هواپېژندنې دا اټکل داسې مهال کړی، چې د ننګرهار په ځینو ولسوالیو کې د وروستیو ورښتونو او خونړیو سېلابونو له امله خلکو ته ځاني او درانه مالي زیانونه اوښتي دي.

د ننګرهار د ولایت مقام په خبرپاڼه کې د دغو سېلابونو له امله تر دې دمه د ۲ ماشومانو مړینه او ۵ نورو ټپي کېدل تائید شوي او همدا راز د شاوخوا ۲۵۰ کورونو د نړېدو راپورونه هم ورکړل شوي دي.

بلخ کې د یوه سړک د قیر کولو چارې...

د بلخ ولسوالۍ د خلکو لپاره د تګ راتګ اسانتیاوې برابرې شوې دي.د سیمې اوسېدونکي د دې سړک له جوړېدو خوښي څرګندوي او وایي چې د دوی په سیمه کې دې ته ورته نورې ټولګټې پروژې پلې شي.

سلګونو معتادینو ته د حرفوي زده کړو...

۸۰۰ تنو هېوادوالو ته په پنځو (خیاطۍ، بوټګنډلو، بیک ګنډلو، د ودانیو برېښنا او د کورنیو برېښنایي توکو د ترمیم) حرفو کې د څلورو نیمو میاشتو لپاره برنامه جوړه کړې ده.

هغه زیاته کړه، چې دا لړۍ د کابل ترڅنګ په ځینو نورو ولایتونو کې هم دوام لري، چې تر اوسه څه باندې ۶ زره تنه له اعتیاده رغېدلي اشخاص له دې برنامو څخه مستفید او د ټولنې د سالمو انسانانو په توګه د خپل کسب او کار مالکان ګرځېدلي او دمګړۍ د خپلې کورنۍ د نفقې او سرپرستۍ مسئولیت پر غاړه لري.

د وربښمو پُل له لارې د ٦۵ زره ...

ته یې سپارښتنه کړې، چې دوی ته اړین خدمات وړاندې کړي.

د مسئولینو پر وینا، راستنېدونکو کډوالو بهیر د مدیریت لپاره په دوو شفټونو کې کارکوونکي ګمارلي، ترڅو د دوی د ثبت، تثبیت پروسه ترسره او مالي مرسته ورسره وکړي.

د ویلو ده، چې د اسلامي امارت او ملي سوداګرو له لوري راستنو شویو کډوالو ته درې وخته خوارک او څښاک هم برابر شوی دی.

ازبیکستان څخه د ۵۰۰ کیلوولټ برېښنا...

او ازبیکستان ترمنځ د دوو دوستو او ګاونډیو هېوادونو په توګه د اقتصادي او نورو برخو اړیکو په پیاوړتیا کې د لازمو آسانتیاوو رامنځته کول اړین بللي او د ۵۰۰ کېلوولټ برېښنا لېږد پروژې اړوند د کېدونکو تړونونو په اړه یې خبرې کړې دي.

د ازبیکستان د انرژۍ وزیر هم د دواړو هېوادونو ترمنځ د اوږدمهاله اړیکو پیاوړتیا د ګډو همکاریو په دوام پورې اړوند بللې او په وینا یې دا اړیکې به د ۵۰۰ کېلوولټ برېښنا د لېږد نوې پروژې سره لا پیاوړې شي.

ټاکل شوې ازبیکستان د ۵۰۰ کېلوولټ برېښنا لېږد پر نوې پروژې باندې پانګونه وکړي، چې دې پروژې له لارې به ۸۰۰ میګاواټو پورې برېښنا پلازمېنې کابل او د هېواد ختیځو ولایتونو ته ولېږدول شي.

د عاشورا په پار هرات کې د وینې...

فرهنګ ریاست په خبرپاڼه کې د وینې‌ورکولو کمپاین د یو تنظیموونکي، ډاکتر محمد رفیق شیرزي په حواله ویل شوي، چې له دې څخه یې موخه د عاشورا ورځې نمانځل او همدا راز د انسان‌دوستۍ او وینې‌ورکونې کلتور ته وده‌ورکول دي. بلخوا د هرات د وینې بانک مشر، مولوي حامد عمري د دې کمپاین د هرکلي ترڅنګ ویلي، چې د داسې پروګرامونو تطبیق د وینې څه ناڅه اړتیا پوره کولای شي.

یو بنګله‌دېشي شرکت افغانستان کې...

شرکت د پانګونې له لېوالتیا هرکلی کړی او په دې برخه کې یې د بشپړې همکارۍ ډاډ ورکړی دی.

په خبرپاڼه کې د مولوي رحمت‌ولي رحماني له قوله ویل شوي، چې ټول پانګوال باید له دغه فرصته په ګټې اخیستو په افغانستان کې د اوبو او انرژۍ پروژو برخه کې پانګونه وکړي.

د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت...

«اسلام‌کلا کې ستونزې هوارې شوي، د اړتیا وړ توکي او وسایل پر وخت ورته رسېدلي او همدارنګه د پلاوي لخوا عملیاتي چارې ګړندۍ او د کډوالو د ثبت پروسه په منظم ډول روانه ده.»

په دې کتنه کې مولوي عبدالکبیر د کډوالو مرکزي مسئولینو ته سپارښتنه کړې، چې په خپلو چارو کې عدالت ته پام وکړي او له شته ظرفیته اغېزمنه ګټه واخلي.

د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت په خبرپاڼه کې د مولوي عبدالکبیر له قوله ویل شوي، چې د ولایتونو له مسئولینو سره په همغږۍ په هرات او نیمروز کې د راستنېدونکو هېوادوالو لړۍ مدیریت شوې او په کمه موده کې پر عادي حالت برلاسه شوي.

نوموړي همدا راز په هرات کې د راستنېدونکو افغانانو ستونزې ته پر رسېدنې ټینګار کړی دی.

عاشورا؛ د عدالت او...

د عاشورا ورځ موږ ته د یووالي، همدردۍ او ورورولۍ پیغام را ښیي. راځئ چې د عاشورا له درسونو الهام واخلو، د شته نعمتونو شکر ادا کړو، د اسلامي امارت تر چتر لاندې د خپل هېواد د سوکالۍ، پرمختګ او امنیت لپاره یو موټی شو او د شهیدانو وینې بې قدره نه کړو. الله تعالی دې دا ورځې زموږ د خیر، اخلاص او د ملي وحدت د لا پیاوړتیا وسیله وګرځوي. آمین.

د روسیې له لوري د اسلامي امارت رسمیت پېژندنه؛ د نړیوال...

فضل الرحمن اوریا وایي: «روسیه د نړۍ یو زبر ځواک هېواد دی، د روسیې له لوري د اسلامي امارت په رسمیت پېژندنه د نورو هېوادونو له لوري د رسمیت پېژندو او د نړیوال مشروعیت تر لاسه کولو لړۍ د پیلېدو معنی لري، چې ورځ په ورځ به نور هېوادونه ور ته ننوځي او دا لړۍ به وسعت پیدا کوي».

د دې پوښتنې په ځواب کې، چې د روسیې له پلوه دا پرېکړه د امریکا او غربي بلاک سره د دغه هېواد د رقابت له مخې ده او که د خپلو ملي او سیمه ییزو ګټو پر اساس؟ ښاغلي اوریا ویلي: «په دې کې شک نشته چې د روسیې او امریکا تر منځ په هر ډګر کې پراخ رقابت شته او وي به، خو دا معنی نه لري، چې روسیه د اسلامي امارت په رسمیت پېژندو ته همدغه رقابت اړیستې ده».

د ده په باور، په افغانستان کې مطلق ثبات، نسبي پرمختګ او ځواکمن مرکزي حکومت او دغه راز د خپلو ملي ګټو چې ګواکې افغانستان سره یې د تعامل له لارې خوندي کولی شي، «ځکه د سیمه ییز اتصال په سترګه ور ته ګوري» روسیه قانع کړه چې اسلامي امارت په رسمیت وپېژني.

نړیواله ټولنه تر ډېره د ښځو د حقونو، د دوی د معیار مطابق ټولګډونه حکومت او د بشري حقونو خوندیتوب د رسمیت پېژندنې لپاره شرط بولي، خو اسلامي امارت تل ټینګار کړی، چې حکومت یې د اسلامي شریعت، افغاني ارزښتونو او د ملي خپلواکۍ پر بنسټ ولاړ دی، د اسلام په رڼا کې د بشر حقونو ته ژمن دي او له نړۍ سره پر مثبت تعامل باور لري.

د امارت دریځ دا دی، چې رسمیت پېژندنه باید د متقابل درناوي، نه لاسوهنې او د دوه اړخیزو ګټو پر بنسټ وي، نه د سیاسي فشار او اجباري شرایطو پر بنسټ.

د روسیې له لوري د اسلامي امارت رسمیت پېژندنه د دغه نظام لپاره یو ډیپلوماټیک بری یادېږي، خو هم مهاله د نورو هېوادونو سترګې دې ته دي، چې د افغانستان حالت وڅاري او له مخې یې پر خپلو تصمیمونو له سره غور وکړي.

روسیه د هغو لږو هېوادونو له ډلې څخه ده، چې د جمهوریت له پرځېدو وروسته یې په کابل کې خپل سفارت پرانیستی پرېښود. پر دې سربېره، له تور نوملړه د امارت د چارواکو د نومونو ایستل او په مسکو کې د اسلامي امارت د وړاندیز شوي سفیر منل، هغه ګامونه دي، چې په وروستیو میاشتو کې مسکو له اسلامي امارت سره د اړیکو د پراختیا لپاره اخیستي، چې اوس یې دغه اړیکې د رسمیت پېژندو تر کچې ورسېدې.

نذیر منیب

Shariat Daily

Shariat
Published by
Islamic Emirate of Afghanistan
Eng, Uzair Baryaly ، Director of Gov.dailies
0202526340
Chief Editor : M. Munir Farooqi
Email: info@shariatdaily.com
WWW.shariatdaily.com ویب سایت:

شریعت
د دولتي ورځپاڼو رئیس:
انجنیر عُزیر بریالی / ۰۲۰۲۵۲۶۳۴۰
مسئول مدیر: محمد منیر فاروقي / ۰۷۶۴۸۰۸۲۰۵
مسئول سکرتر: خالد افغان/ ۰۷۷۳۰۶۲۸۳۲
د شریعت برښنا لیک: info@shariatdaily.com
پته: اتمه ناحیه، د المپیک څلور لارې، د حضوري چمن ختیځ، کابل ـ افغانستان
شماره توزیع و شکایات: ۰۲۰۲۳۱۲۵۰۹ / ۰۷۶۶۰۴۴۹۶۶/ ۰۷۳۱۶۰۶۰۷۳

Monday 07 July 2025 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 796

د عامې روغتیا وزارت راستنېدونکو هېوادوالو ته د روغتیايي چوپړونو خبر ورکړی

د عامې روغتیا وزارت خبر ورکړی، چې د مولوي نور جلال جلالي په مشرۍ د یاد وزارت د رهبرۍ بورډ په ۱۶مه غونډه کې راستنېدونکو کډوالو تـه د روغتیایـي خدمتونو د وړاندې‌کولـو ترڅنـګ پـر بېلا بېلو مسـایلو بحث او خبرې شوې دي.

د روغتیـا وزارت پـه وېبپاڼه لیکل شــوي، چې په دې غونـډه کې د یـاد وزات مرسـتیالانو، مرکـزي رییســانو او مشاورینو ګډون کړی، چې د ځینو مسایلو ترڅنګ په کې اســلام‌کلا بندر ته د امبولانسونو د لېږد او له نوي تدارکاتي قانون سره سـم د تدارکاتي تړونونو د ورکړې او پروسـې په اړه خبرې شوې دي.

د خبرپاڼې لـه مخې چې د رهبرۍ پـه دې غونډه کـې همـدا راز د پروګرامونو، غونډو او ورکشـاپونو د ښه‌والي او ښـه ترسره کولو لپاره د ویاندویـۍ، اطلاعاتـو او عامه اړیکو ریاست ســره د همغږۍ، د غیر مســلکي ډاکټرانو او حکیمانو ســره د مرکو د مخنیوي، د شفري نسـخو لیکلو څخه د مخنیوي، د مخابراتـو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت ســره پــه روغتونونـو کې د فیــس راټولولــو سیســتم پــر ســتونزو هــم خبرې شــوې دي.

په خبرپاڼه کې همدا راز ویل شوي، چې د عامـې روغتیا وزیر، مولوي نور جلال جلالي پورته یادو شویو موضوعاتو ته د پر وخت رسـېدنې او د چارو چټکتیا په موخه بېلابېلې تخنیکي کمېټې ګمارلې دي.

د عاشورا په پار هرات کې د وینې ورکولو کمپاین

د هرات مسـئولینو خبـر ورکړی، چـې هلته د عاشـورا پـه ورځ له ۳۰۰ ډېـرو تنـو د وینې‌ورکولو په کمپایـن کـې برخه اخیسـتې ده. د یـاد ولایـت اطلاعاتـو کلتـور ریاسـت مسـئولینو ویلي چې دا کمپاین د احیا نشـاط د غاښـونو کمپلکـس کلینیـک، د عامـې روغتیا ریاسـت او د هرات مرکزي بانک پـه همکارۍ پـه «بکرآباد» سـیمه کـې ترسـره شـوی دی.
د هرات د اطلاعاتو او ...۳مخ

کونړ کې د لسګونو پروژو چارې پیل شوې

د سـرحدونو، قومونـو او قبایلـو چـارو وزارت د سـرحدي چارو مرسـتیال مولوي محمد اسماعیل غزنـوي د کونـړ ولایت پـه هغو ولسوالیو کې، چې د ډیورنډ فرضي کرښې ته څېرمه پرتې دي، د ۱۳۱ میلیونـه افغانیو په ارزښـت د ۶۸ منظـور شـویو پروژو لـه جملې د ۳۵ پراختیایـي چـارې پیـل کړې.

پـه دې تـړاو جـوړو شـویو مراسـمو کـې د کونـړ والـي، سیمه‌ییزو مسـئولینو او ګڼ شمېر ولسـي خلکـو ګـډون کـړی و. په پیل کـې د کونړ والـي مولوي قدرت الله ابو حمـزه ویلي، چې د اسلامي امارت له لوري ډیورنډ فرضي کرښې ته څېرمه د خلکو د ستونزو د حل لپاره دا ډول پروژې یـو مهـم او ارزښـتناک ګام دی. نومـوړي زیاتـه کـړې، چې موږ تـل د خپـل ولـس غوښـتنو ته لبیـک وایـو او ژمن یـو، چې په بنسـټیزو برخو کې خپلو خلکو ته باکیفیتـه خدمتونـه وړاندې کړو. د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت مرستیال بیا ویلي،... ۲مخ

ننګرهار کې د وروستیو سېلابونو له امله ۷ تنو ته مرګ‌ژوبله اوښتې

د ننګرهـار ځایي مسـئولینو د یاد ولایت په «کوز کونـړ، نازیان او بټي‌کوټ» ولسوالیو کې د وروستیو سېلابونو له امله دوه ماشومان مړه او پنځه کسـان نور ټپیان شـوي دي. د ننګرهـار د ولایـت مقام پـه خبرپاڼـه کـې ویل شـوي، چـې دا سـېلابونه د یـاد ولایت پـه یو شـمېر نورو ولسـوالیو کم هـم راوتلـي او خلکـو تـه یې درانه مالـي زیانونـه اړولي دي. د خبرپاڼې له مخې چې د ننګرهار په ګوشـتې، لعل‌پور، مومندرې، کامـې، شـینوارې او بټي‌کـوټ ولسوالیو کې د وروستیو سېلابونو لـه املـه شـاوخوا ۲۵۰ کورونه نړېدلي او نـړدې پنځه زره جریبه کرنیـزه ځمکه ویجاړه شـوې ده. بلخـوا د هواپېژندنې اداري په یو شمېر ولایتونو کې د شدید ورښت او سـېلابونو د راوتلو اټکل کړی دی. د ویلـو ده چې دوې اوونۍ مخکې هـم د لوګر او خوسـت په ګډون پـه ځینـو ولایتونو کې د سـېلابونو له املـه هېوادوالو ته مالي او ځاني زیانونه اوښتي وو.

له پاکستانه ۲۰ تنه افغان بندیان ازاد او هېواد ته راستانه شول

د کډوالـو او راسـتنېدونکو چارو وزارت د پاکسـتان لـه بېلابېلـو بندخونـو د ۲۰ تنـه افغـان بندیانـو د ازادېـدو او هېـواد ته راسـتنېدو خبـر ورکـړی دی. یـاد وزارت د کندهـار ولایت د سـپین بولـدک د کډوالـو د لېږد امریـت د معلوماتـو لـه مخـې ویلي، دا کسان سـره له دې چې قانوني اسـناد یې لرل، د پاکستان په بېلابېلو سـیمو کې نیول شوي وو او د یوې ورځې څخه تر څلور ورځـو پورې یـې بند تېـر کړی دی.
د مسـئولینو پـر وینـا، چې دغه کسان د نوم‌لیکنې او بشري مرستو وروسـته خپلو اصلي مېنو ته هم لېږدول شوي دي.

۱۴ ولایتونو کې د ورښت او سېلابونو اټکل

د ترانسـپورت او هوایـي چلند وزارت د هوا پېژندنې پرون په ۱۴ ولایتونـو کې د تالنـدې، باران او سېلابونو د راوتلو اټکل کړی دی. د هواپېژندنـې اداري په خبرپاڼې کې ویل شـوي، چې نورسـتان، کونـړ، ننګرهار، لغمـان، کابل، کاپیسـا، پنجشـیر، پروان، لوګر، غزنـی، میـدان‌وردګ، پکتیـا، خوسـت او پکتیـکا ولایتونـو کې د شـدید ورښـت اټکل شته. د هـوا پېژندنـې اداري د یـادو ولایتونو پـه ښلا ښلو سـیمو کې د بـاران کچه له ۱۰ تـر ۴۰ ملي متـرو پـورې اټـکل کـړې ده.
د ترانسپورت او هوایي...۳مخ

بلخ کې د یوه سړک د قیر کولو چارې بشپړې شوې

د بلخ ولایـت د کلیو بیـا رغونې او پراختیـا ریاسـت مسـئولین وایـي چـې د دغه ولایـت د بلخ ولسـوالۍ اړوند پر یوه سړک د قیر اچولو چارې بشـپړې شـوې دي.

د یاد ولایت د کلیـو بیا رغونې او پراختیا ریاسـت یو مسـئول ویلي چـې دغـه سـړک ۳.۲ کیلومتره اوږدوالی او ۶ متره سور لري، چې د اکتید موسسې په مالي ملاتړ، د ۳ میلیونه ۱۹۰ زره افغانیو په لګښت د کربـړ اچولو چارې بشـپړې او ګټې اخیسـتو ته سپارل شوې دي. نوموړي زیاته کړه، چې د دې سړک په جوړېدو سره... ۳مخ

نړۍ څار

په وینو لړلی اوربند؛
لسګونه فلسطینیان بیا شهیدان شوي

پـر دې سـربېره چـې نړیـوال منځګـړي هېوادونـه د غـزې پـه تړانګـه کـې د اوربنـد هڅـې کـوي، خـو صهیونیسـتي رژیـم خپلـو بریدونو کـې بیاځلې ۷۸ فلسـطینیان شـهیدان کـړي دي. د الجزیـرې د راپـور لـه مخـې، د اسـرائیلي رژیـم د مشـر بنیامیـن نتنیاهـو دفتـر اعلان کـړی، چې پـرون به د دغـه رژیم یـوه پـلاوي د قطـر پلازمېنـې دوحـې تـه سـفر وکـړي، څو له حمـاس سـره د احتمالي اوربنـد په تړاو لـه نږدې خبـرې وکړي. د امریـکا له‌خـوا د وړاندې شـوې اوربنـد طرحه دا هیلـه زیږوي، چـې ښـایي د اسـرائیلو وحشـیانه یرغـل پـای تـه ورسـېږي. د غزې د روغتیا وزارت وایي، چې د اسـرائیلي اشغالګرو د جګړې له پیله تر دې دمه لږ تر لږه ۵۷ زره او ۳۳۸ فلسـطینیان شهیدان او ۱۳۵ زره او ۹۵۷ نور ټپیان شوي دي.

کالیفورنیا کې ګڼ ځنګلونه د اور خوراک شول

د امریـکا د کالیفورنیـا ایالت په سـان لوییس او بیسـپو ولسـوالیو کې پـراخ ځنګلونو اور اخیسـتی چې لـه تېرو دوو ورځو راپـدې خوا دوام لري.
د نیویـارک ټایمـز ورځپاڼـې د راپور له مخـې، اور تـر دې دمه نږدې ۸۰ زره جریبـه ځمکـه سـوځولې او لا هـم د پراخېـدو پـه حال کې دی.

د اور وژنې دلې تر اوسه یوازې لس سلنه اور تر کنټرول لاندې راوستی دی.
ویل‌کېږي چـې د دې اورلګېدنې له امله یوه مهمه لویه لاره تړل شـوې او خلکو ته ویل شـوي چې له سـیمې ووځي او خوندي ځایونو ته ولاړ شـي. په ورته مهال د کالیفرونیا د اوروژنې ادارې په روان کال کې دا تر ټولو ستر اور بللی دی.

ایلان ماسک د نوي ګوند بنسټ اېښی

د امریکا میلیاردر او د اېکس مالک ایلان ماسـک، د «امریکا ګوند» په نوم یو نوی سیاسـي ګوند تاسیس کړی دی.
ماسـک ویلـي چـې دا ګونـد بـه د خلکـو د ازادۍ لپـاره مبـارزه کـوي. هغه دا پرېکړه وروسـته لـه هغه کړې، چې د امریکا ولسمشـر ډونالـډ ټرمپ، پـرون د مالي یـو نوی قانـون تصویب کړ. ماسـک باور لـري، چې دا قانـون به هېواد له اقتصادي شـاتګ سـره مخامخ کړي.
ایلان ماسـک چې پخوا د ټرمـپ د کابینې د چـارو د اغېزمنتیا د څار رییس پاتې شـوی، وایي چې اوسـنی وضعیت بدلون ته اړتیا لري او د «امریکا ګوند» بـه د دغه بدلون لپاره نوې لاره پرانیزي.